AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال
۲۰۲۲/۰۴/۱۹

# پینځه زره کلن تاریخ؛

## ویاړ که سپکاوی؟

په روستیو څو کلونو کې ګورو، چې د افغانستان پینځه زره کلن تاریخ خولو ته لوېدلی، څوک پرې ویاړي او څوک يې په سپکه یادوي، طنز يې ترې جوړ کړی یا یې له درده پېغوري.
پینځه زره کلن تاریخ څه مانا؟
په لویه قاعده کې، هېڅ تبر زوړ او هېڅ تبر نوی نه دی. انسانان که د حضرت آدم (ع) اولاد ګڼئ یا يې له افریقا څخه د لرغوني را پنځېدلي "هومو ساپینس" انسان زوزات، ټول سره همزولي دي. روسته روسته تبر تبر و خېل خېل سره خواره شوي او له شکل و رنګ و فرهنګه رانیولي تر تفکر و باور پورې ګڼې رنګارنګۍ يې ورخپلې کړې دي .
په افغانستان کې، د غزني له ناوور دښتې څخه، د انسان په لاسونو جوړ موندل شوي اوزار ښيي، چې تر پینځلس زره کاله پخوا دلته انسانان هستوګن ول او اوزار يې جوړول.
نو ولې پینځه زره کاله؟
دا شمېر غالباً تر آمو سینده د راپورې وتلیو اریایي خېلونو په لاس د جوړو شویو لومړنیو حکومتونو تاریخ دی، چې په باختر(بلخ) یا کومه بله سیمه کې يې د لومړني اریایي مدنیت تومنه رامنځ ته کړې او بیا کرار کرار مخ په سیستان، ختیځ ته د هیندوستان شمال او لویدیځ ته فارس و د مدیترانې تر څنډو پورې غځېدلی دی.
دویمه قاعده:
که تمدن د ویاړ یا پېغورلو ورګنو، نو دا دې نه هېروو، چې بشري تمدن د ټول بشریت ګډ میراث دی. هر تبر، هر ملت، هرې سیمې، هرې ژبې او ان هر وګړي ورته یو څه ورکړي دي. د اساطیرو لرغونتیا شریکه ده، هیندي دیائوس Dyaus په یونان کې زئوس شو او په روم کې ژوپیتر. د حضرت نوح (ع) د توپان کیسه د سومری ګېلګمېش له افسانې سره نښلي او د پېنتنو افسانو زبزبانه ښاپیرۍ د چین پر افسانوي ښامار سپره ګرځي.
د فیلوسوفیک تفکر هم همدا حال دی، هرچا یو څه ورکړي دي. له ویدي سرودونو او اوپانیشادونو رانیولي تر زردشت و زند و یوناني و بیا اسلامي دورې پورې حکمت په ټوله نړۍ کرځېدلی.
وحدانیت له هیندي اتمان و برهمنه رانیولي بیا تر منځني ختیځ و مصر پورې د ډېرو لرغونیو ملتونو باور و او د ګڼو خدایګوتیو سرو بر هم په هرځای کې راخرګند دی.
عرفان، يې هم همداسې درواخله، له بودا يې راپیل کړه، خبره تر اسلامي دوران او د پښتنو تر روښاني مکتب پورې رارسیږي.
هنر، ادبیات، ساینسي علوم او تکنولوژي هم له دې قاعدې استثناء نه دي.
هېڅ ژبه نوې یا زړه نه ده، بلکې ژبې د خپلې ځانګړې قانونمندۍ له مخې زیږي، ځوانیږي، نورې ژبې زیږوي او مري.
دا قاعدې موږ ته څه راښیي؟
پینځه زره کلن تاریخ یا بل هرداسې کلیشه شوی مفهوم، نه د بېځایه ویاړلو وړ ده او نه هم ښایي په طنز و مسخرو او پېغورونو بدل شي.
نو څه ریښتیني دي؟
تمدن.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د پورته ټولو انساني هستونو او پنځونو نښتېځلي پايله تمدن دی. تمدن لکه په اتموسفير کې اکسيجن، چې ټول انسانان او ژوي يې تنفس کوي، يا په طبيعت کې د خوړو موندلو او ژوند کولو تومنه، چې ټول ورځخه په ګټنې ژوو .

دربيمه قاعده:

بشري تمدن د ټول بشريت ګډه شتمني ده. د تمدن موخه، غايه او وجودي منطق دا دی، چې انسان څنګه ښه ژوند ولري؟

هرچا چې د خپلې ټولنې د وګړيو لپاره د انساني ژوند د لا ښو شرايطو د چمتو کولو لپاره له دغې ګډې شتمنۍ ډېره ګټه پورته کړله، هماغه ملت، ټبر، ټولنه يا وګړی د وياړلو حق لري.

هرې ټولنې، چې وګړيو يې خوندي بشري حقونه، ښه خواړه، کورکهول، خوښ ژوند، ښکلی فرهنګي او سمسور ايکولوژيک چاپېريال درلوده، هماغه ټولنه پر خپل تاريخ و لاسته راوړنو وياړېدلای شي. اوس نو دا تاريخ که سل زره کلن وي، يا سل کلن، هېڅ اهميت نه لري.

پر خپل پينځه يا پنځوس زره کلن تاريخ مه ببځايه وياړئ، مه يې ښکنځئ او مه يې يو بل ته پېغورئ، بلکې په دې فکر وکړئ، چې له بشري تمدن څخه مو د خپلې ټولنې د هوساېينې لپاره څه اخيستي؟ څه ورکړي؟

راځئ، د وياړ و پېغور معيارونه وپېژنو!





افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ